السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# هېڅ ډله په يوه ځای کې ناسته نه کوي چې هلته د الله ياد ونه کړي او پر پېغمبر يې درود ونه وايي، مګر دا چې (هغه ناسته به) د دوی لپاره د نقصان او پښېمانتيا لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي سزا به ورکړي او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «هېڅ ډله په يوه ځای کې ناسته نه کوي چې هلته د الله ياد ونه کړي او پر پېغمبر يې درود ونه وايي، مګر دا چې (هغه ناسته به) د دوی لپاره د نقصان او پښېمانتيا لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي سزا به ورکړي او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي».

[صحيح دی] [ابوداود، الترمذي او النسائي په السنن الكبرى کې روايت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له يادولو څخه د بې پروايۍ په اړه خبرداری ورکړی او ويلي يې دي چې کوم خلک چې په يوه مجلس کې ناست وي او هلته الله نه يادوي او د هغه په رسول صلی الله علیه وسلم درود نه وايي، مګر دا چې هغه مجلس به د قيامت په ورځ د دوی لپاره د پښېمانۍ، زيان او نقصان لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي دوی به د هغوی د پخوانيو ګناهونو او راتلونکې بې پروايۍ له امله په سزا ورسوي او که وغواړي نو په خپل فضل او رحم سره به يې وبخښي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5511

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee